لمونځونه

د سُنّت طریقې سره سم اداکړئ



شیخ الاسلام مفتي حضرت مولانا محمد تقي عثماني دامت برکاتهم العالیه

مترجم
مفتي محمد معصوم افغاني

مکتبه حکیم الامت تهانوي
کاسي روډ کوټه

www.taleemulislam-radio.com

لمونځونه

د سُنّت طریقې سره سم اداکړئ

شیخ الاسلام مفتي حضرت مولانا **محمد تقي عثماني** دامت برکاتهم العالیه

مترجم

مفتي محمد معصوم افغاني

مکتبه حکیم الامت تهانوي
کاسي روډ کوټه

تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼه
www.taleemulislam-radio.com

دکتاب پیژندنه:

نوم: لمونځونه دسنت طریقی سره سم اداکړی

لیکوال: مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب

ژباړونکی: مفتی محمد معصوم افغانی

لمړی طبعه: رمضان المبارك ۱۴۲۷ سنه

دچاپ شمیره: زرټوکه

دوهمه طبعه: جمادی الاخری ۱۴۲۸ سنه

دچاپ شمیر: یوولس سوه ټوکه

دریمه طبعه: شعبان ۱۴۲۸ سنه

دچاپ شمیر: دوه ویشت سوه ټوکه

مطبعه: الجنت پرنټنګ مطبعه۔ کراچی

تلفون: ۰۲۱_۲۷۴۱۲۳۷

Download from: aghalibrary.com

سريزه

لمونځ داسلام دمهمو عباداتو څخه دی. دالله عزوجل دتقرّب او رضا موندلو ډیره اغیزمنه ذریعه، ددنیا اواخرت دکامیابیو کلي ده. لمونځ افضل العبادات هم دی او جامع العبادات هم.

دلمانځه له روژي سره مشابهت دی، ځکه چي په لمانځه کښي هم خوراک نشته.

په دي کښي دزکوة رنګا هم شته، ولي چي په عامو حالاتو کښي دلمانځه داداکولو لپاره په مسجد، جامو او اودس باندي مال خرڅیږي.

په هغه کښي دحج خوشبوئي هم شته، ولي چي دکعبي له رب سره مناجات وي. دفقیري او عاجزی ټولي اداګاني پکښي وجود لري.

په لمانځه کښي جهاد مع النفس هم شته، کوم چي په حقیقت کښي عظیم جهاد دی.

بیا په لمانځه کښي دملائکو تسبیح او تقدیس هم شته. د ونو قیام، دڅارووو رکوع، دغرونو قعده او

دحشراتو سجده هم پکښي وجود لري.

لنډه دا چي دنړۍ دکون او مکان. د هر مخلوق د عبادت څه ناڅه انداز په دي کښي موجود دی.

داسلام ستر پیغمبر احمد مجتبیٰ، حضرت محمد مصطفیٰ(صلي الله علیه وسلم)ارشادات هم دلمانځه اهمیت روښانه کوي. لکه چي فرمایي:

۱ـ دمؤمن او کافر تر منځ توپیر په لمانځه سره کیږي .

۲ـ کله چي لمونځ اداکوې، نو په داسي شان سره لمونځ اداکړه لکه چي دا ستا ورستنی لمونځ وي. یعني په ښه ادب، توجه او دسنت له طریقي سره سم یي اداکړه.

۳ـ زما دسترګو یخوالی په لمانځه کښي دی.

۴ـ اوپه ورستني وصیت کښي بي هم دلمانځه په هکله ډیر تاکید کړی دی.

۵ـ حضرت بلال. (رضی الله عنه) ته به یي ارشاد کاوو: "ارحني یا بلال" یعني اذان وکړه، دلمانځه په کولو سره راحت راته موندل کیږي.

نامتو عارف ابوالبرکات، بدرالدین، شیخ احمد سرهندي حضرت مجدد الف ثاني(رحمه الله تعالی)فرمایي:

{نماز است که راحت ده بیماران است "ارحني یا بلال" رمزیست ازین ماجراء "وقرة عیني في الصلوة" اشاره ایست باین متمنا.}

(لمونځ دی چي ناروغانو ته ارامتیا ورکوي "ارحني یا بلال" ددي پیښي رمز دی.

او "قرة عیني في الصلوة" دي هیلي ته اشاره ده.)

دالله د دوستانو په لمانځه کښي چي کوم خوند او روحاني کیفیت حاصل وي، حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله تعالی ور ته داسي اشاره کوي:

{رتبه نماز در رنگ رتبه رویت است دراخرت نهایت قرب دردنیا درنماز است ونهایت قرب در اخرت درحین رویت.}

(دلمانځه درجه د رویت (دالله تعالی ددیدار) په رنـــګ کښي ده.

داخـــرت ډيرقـــــرب، ددنيا په لــــمانځه کښي ده. ډيرقـرب په اخرت کښي د رويت (دالله تعالى دديدار) په وخت کښي دی.

په دې وړوکې رساله کښي، محترم استـــــادشيخ الاسلام حضرت علامه، مولانا مفتي محمدتقي عثماني صاحب "دامت برکاتهم العاليه" دلمانځه بشپړه مسنونه طريقه بيان کړي ده او هم يي دنارينه او ميرمنو دلمانځه توپير بيان کړي دی، چي ددي په ذريعه دهر مسلمان ورور او خور په لمانځه کښي دحضرت محمد (صلي الله عليه وسلم) دمبارکي طريقي سره سموالی راشي.

داځه ستونزمن عمل نه دي. اميد دی چي ددي عمل له برکته، الله تعالى دخپل فضل او کرم معامله وکړي.

الله عزوجل دي وټولو ته دعمل توفيق راپه برخه کړي.

والسلام

فقيرمحمدمعصوم افغاني

يوم الجمعه، ۱۷ رجب، ۱۴۲۷هـ

لمونځونه له سنت سره سم اداء کړئ

الْحمدلله وَکفٰی وسلامٌ علی عِبادِهِ الَّذِیْنَ اصطفی.

لمونځ ددین ستن ده، هغه له سنت طریقي سره سم اداکول، دهر ملسمان دنده او مسؤلیت دی. خو موږ په بي فکریۍ او بیباکۍ سره، دلمانځه ارکان څرنګه چي موپه پوهه کښي وي، اداکوو. ددي خبري فکر نه کوو چي، دا ارکان په مسنونه طریقه سره اداسي. له دي امله، زموږلمونځونه دسنت دانوار او برکاتو څخه بي برخي پاته وي. حال داچي ددي ارکانو په سمه توګه اداکولو سره. نه وخت ډیر مصروفیږي او نه هم محنت ډیرغواړي.

لږ دتوجه خبره ده. که موږ لږتوجه وکړو، صحیح طریقه زده کړو اوداعادت وګرځوو نو، په څومره وخت کښي چي موږ نن لمونځ اداکوو، په هغومره وخت کښي دالمونځ له سنت طریقي سره سم اداکیږي. ددي له

اجر او ثواب سره. سره انوار او برکتونه به یي هم تر نن ډیر زیات وي

معززو اصحابو رضي الله عنهم اجمعین دلمانځه د یوه ،یوه عمل په ښه توجه سره.د سنت سره داداکولو ډیر اهتمام کاووا و هغوی به یو له بله سنتونه هم زده کول.

ددي اړتیا له مخي، احقر په یوه مجلس کښي د لمانځه سنت طریقه او په دي اړه چي کومي تیروتني رواج شوي دي. ددې تفصیل بیان کړي دی چي په دې سره اوریدونکو ته ډیره ګټه ترلاسه شوه.

ځیني دوستانو خپله رایه داسي څرګنده کړه چي: دا خبري دیوي مختصري رسالي په صورت کښي چمتو شي . هر سړي به له هغي نه ګټه ترلاسه کړي.

نو په دي مختصره رساله کښي، دلمانځه سنت طریقه او دهغه په ادابو سره، داداکولو ترتیب بیانول مقصود دي.

الله تعالی دي همدا، زموږ ټولو لپاره ګټور وګرځوي او په دي سره دي دعمل کولو توفیق راپه برخه کړي. آمین

دلمانځه دمسئلو په اړه ډیر وړوکي او غټ کتابونه. بِحَمْدِالله خپاره شوي دي. دلته دلمانځه واړه مسئلي بیانول مقصود نه دي. بلکي، یوازي دلمانځه دارکانو هئیت (ډول) دسنت مطابق جوړولو لپاره، څو اړیني خبري بیانول دي او په هغو تیروتنو او غلطیو باندي تنبیه کول دي کوم چي نن زمان ډیر زیات رواج شوي دي.

په دي لنډو خبرو باندي، دعمل کولو له کبله به ان شاءالله دلمانځه لږ تر لږه ظاهري صورت دسنت سره جوړ شي اوبیو مسلمان به دخپل پالونکي ذات، په حضور کښي اقلاً دغه عرض وړاندي کولاي شي چي:

تري محبوب کي یارب * شباهت لےکے آیاهون
حقیقت اس کو توکردي * مین صورت لي کي آیاهون

"یا ربه! ستا دمحبوب له شباهت سره راغلی یم.
دا ته حقیقت کړي،زه یوازي له صورت سره راغلی یم."

وماتوفیقی الابالله علیه توکلت والیه انیب

احقر

محمدتقي عثماني عفي عنه

دارالعلوم کورنګي .کراچي۱۴

دلمانځه ترپيل وړاندي

دا خبري په ياد ولره او عملي يي کړه

١- ستامخ دقبلي ولوري ته کيدل ضروري دي.

٢_ ته به سم اوسيده ولاړ يي او ستانظر به دسجدي پرځاي باندي وي.غاړه کښته کول او زنه له سيني سره مښلول هم مکروه دي. پرته له کومي اړتيا ، سينه کښته کول اودريدل هم صحيح ندي.داسي سيده اوسم ودريږه چي نظر دي دسجدي پر ځاي وي.

٣_ ستاد پښو ګوتو مخ به هم دقبلي ولوري ته وي او دواړه پښي به دقبلي ولوري ته سمي وي (پښي ښي اوچپ لوري ته کږي ايښودل دسنت خلاف دي)

غلطه طريقه

صحيح طريقه

٤_ د دواړو پښو ترمنځ به لږ تر لږه دڅلورو ګوتو په اندازه فاصله به وي.

٥_ که په جماعت سره لمونځ اداکوي نو صف به دي سيده وي.دسيدهکولو ښه طريقه داده چي،هرسړی د خپلو دواړو پنډيو اخري څنډي دصف يا دهغه دنښان په اخري څنډه باندي داسي کښيږدي

٦_ دجماعت په صورت كښي داخبره عملي كړه چي د ښي اوكين لوري دولاړو خلكو دبازوګانو سره ستا بازوګان يوځاي شوي وي اوپه منځ كښي كوم خالي ځاي نه وي .خودخالي ځاي دډكولولپاره دومره تنګي هم نه ده په كارچي په آرام سره دريدل ستونزمن شي.

٧- كه مخكښي صف ډك شوي وي نو ، بل صف دي له منځ نه شروع كوي. دراسته يا چپه لوري څخه دي نه پيليږي. بياچي كوم خلك راسي،هغوي دي ددي خبري خيال وساتي چي صف دوواړو طرفونو ته برابر وي.

٨_ پايڅي دبجلكو نه كښته زړه ول، په هر حالت كښي ناروا دي. ښكاره خبره ده چي په لمانځه كښي د دي ناوړتوب نور هم ډيريږي .له دي امله په دي دځان اطمينان كوه چي پايڅي تربجلكو "پورته" تل لوړي وي.

٩_ دلاسونولستونو به بشپړلاسونه پټ كړي وي، فقط لاسونه به دي لوڅ وي .بعضي خلك لستوڼي ونغاړي لمونځ كوي،دا طريقه سمه نه ده.

١٠-له داسي جامي سره لمونځ كول مكروه دي چي په هغي سره انسان دخلكو په وړاندي نشي تلاي.

دلمانځه دپيل کيدلو په مهال

۱ـ په زړه کښي نيت وکړه چي، زه فلانيٌ لمونځ کوم، په ژبه سره دنيت الفاظ ويل ضروري نه دي.

۲ـ لاسونه تر غوږونو پوري داسي اوچت کړه چي دلاس ورغوي دقبلي لوري ته وي او دبتو ګوتو سرونه له غوږونو سره يا خو بالکل يو ځاي شي، يا ددوي برابر شي. پاته نوري ګوتي لوړي خواته سيده او سيخي وي.

ځيني خلک دورغوو مخ، دقبلي ولوري ته دکولو پرځاي دغوږونو طرف ته برابر کړي. ځيني خــلک بياغـــــــوږونه په لاسونوسره بالکل پټ کړي. ځيني خلک لاسونه دبشپړ اوچتيدو نه پرته، لږ اشاره وکړي او ځيني خلک بيا دغوږونونرمي په لاسونو ونيسي.

دا ټولي طريقي غلطي او دسنت خلاف دي. ددي پرېښول په کار دي.

۳ـ په پورته ذکرشوي طريقي سره دلاسونو د اوچتولو په مهال، "**الله اکبر**" ولوله، بيا دښي لاس په

بته ګوته او کوچني ګوتي سره د کيڼ لاس پر خواوشا حلقه جوړه کړه او ويي نيسه. پاته دري ګوتي د چپ لاس پر شا داسي وغوړوه چي د دروسرو ګوتو سرونه د څنګلي خواته وي.

۴_ دواړه لاسونه ترنامه لږ لاندي کښېږده او په پورتني طريقه سره يي ونيسه.

د ولاړي په حالت کښي

۱_که يوازي لمونځ کوي، ياامـامت کوي، نو "سُبْحَانَکَ اللهُمَ... اَعُوذُبِالله... او بِسمِ الله..." بيا د فاتحه سورة (الحمد لله...) او يو بل سورت ولوله.

که په امام پسي لمونځ کوي، نو فقط "سُبْحَانَکَ اللهُمَ" ولوله، بيا پټه خوله شه. د امام قرائت ښه په توجه سره واوره. که امام په زوره قرائت نه وايه، نو دژبي دحرکت کولو نه پرته، دفاتحه د سورت فکر کوه.

۲_ په لمانځه کښي دقرائت لپاره داضروري ده چي ژبي اوشونډانو ته په حرکت ورکولو قراءت وويل شي،

بلکه داډول قرائت وشي چي په خپله لوستونکي يي واوري.

ځيني خلک داسي قرائت کوي چي ژبه او شونډان يي حرکت نه کوي . دا طريقه سمه نه ده . ځيني بيا دقرائت پر ځاي په زړه، کښي د الفاظو تصور کوي. پدي ډول هم لمونځ نه اداء کيږي.

۳ـ کله چي خپله قرائت کوي، نو دفاتحه دسورت لوستلو په وخت کښي، ښه داده چي په هر آيت باندي ساه ايله کوي، بيا بل ايت ولولي، ډير لوي آيتونه په يوه ساه مه لوله.

مثلاً په " الْحَمْدُلله رَبِ الْعَالَمِين " باندي ساه ايله کړه . بيا په " الرحْمنِ الرحِيْم "باندي، بيا پر "ملِکِ يَوْمِ الدِين" باندي.

دا ډول دفاتِحه ټول سورة ولوله. خو له دې وروسته که په قرائت کښي، په يوه ساه تر يوه ډير ايتونه ولولي کوم باک نشته.

۴ـ پرته له کومي اړتيا دبدن وکومي برخي ته حرکت مه ورکوه. خومره په سکون سره چي ولاړيي،

هغو مره ښه ده . که دبدن دګـــرولو اړتیا پیداشي نویوازي یو لاس استعمال کړه او هغه هم د ډیر سخت ضرورت په مهال او ډیر لږ.

۵ـ دبدن ټول زور، پر یوه پښه کول، بله پښه دغه ډول ایله پرېښول چي، پکښي کوږوالي راشي، د لمانځه د ادابو خلاف عمل دي.

له دي نه پرهیز وکړه .یا خو پر دواړو پښو برابر زور وکړه او یا پر یوه پښه زور وکړه خو، دا شان چي په بله پښه کښي کوږوالی رانشي.

۶ـ که دي اړږمی راشي، نو دبندولو یي بشپړه هڅه وکړه.

۷ـ که دي ټیغ راخیژي، نو لومړي هوا په خوله کي یو ځاي کړه ،بیا یي کرار پرته له اوازه وباسه. په زوره ټیغ کښل دلمانځه دادابو خلاف دي.

۸- دولاړي په حالت کښي دي سترګي دسجدي پر ځـــای باندي وي.

دلته،هلــــته یا مخ ته دکتلو نه ډډه وکړه.

****

په رکـــوع کښې

رکوع ته دتللو په مهال، ددې خبرو ځانګړی خيال وساته:

١- دخپل بدن پورتنی برخه دا ډول کښته کړه چې غاړه او شا تقريبا سره برابر شي نه خو تر دې زيات کښته، وي او نه تر دې کم وي.

٢ـ د رکوع په مهال غاړه دومره مه کښته کوه چې زنه دې دسيني سره يوځاي شي او نه يې دومره اوچته لره چې غاړه دملاځخه لوړه شي،بلکه غاړه او ملا به سره برابر وي.

٣ـ په رکوع کښې پښې سيده وي، په هغوي کښې به کوږوالی نه وي.

۴ـ دواړه لاسونه پر زنګونونو باندې داډول کښېښږده چې ددواړولاسونوګوتې خلاصې وي. يعنې دهرو دوو ګوتو تر منځ فاصله وي او دا ډول په ښي لاس سره ښي زنګون او په کيڼ لاس سره کيڼ زنګون ونيسه.

۵ـ درکوع په حالات کښې بازوګان سيده لرل په کار دي، په دې کښې کوږوالی راتلل نه دي په کار.

۶_ اقلاً دومره ځنډ په رکوع کښې وکړه چې په اطمنیان سره دري ځله "**سبحان ربي العظيم**"ولوستل شي.

۷_ د رکوع په حالت کښې به دي سترګي دپښو ولوري ته وي.

۸_ پر دواړو پښو به دي زور برابروي او د دواړو پښو بيډی به يوله بل سره مخامخ وي.

له رکوع څخه دپورته کيدلو په وخت کښې

۱_ له رکوع څخه دولاړيدلو په وخت دومره سيده شه چې، په بدن کښې کوم کوږوالی پاته نه شي.

۲_ په دې حالت کښې به هم نظر دسجدي پرځای وي.

۳_ ځيني خلک دپورته کيدلو په وخت کښې، د ولاړيدلو پرځاي فقط دولاړيدلو اشاره کوي او دبدن دټيټ والي په حالت کښې سجدي ته ستون شي. ددوي په ذمه دلمانځه راګرځول واجب دي.

له دې امله، ورڅخه په سختي سره پرهيزوکړه تر څو چې دسيده کيدلو اطمينان ونه شي، سجدي ته مه ځه.

سجدي ته دتللو په مهال

سجدي ته دتللو په مهال ددې طريقي خيال کوه چي:

۱ـ ترټولو وړاندي زنګنونه ټيټ کړه. دځمکي لوري ته يي دا ډول يوسه چي سينه دې دمخ وخواته ټيټه شي، کله چي دي زنګنونه پر ځمکه تکيه سول، بيا سينه ټيټه کړي.

۲ـ ترڅو چي دي زنګنونه پرځمکه نه وي تکيه کړي، تر هغه وخته دبدن دپورتنۍ برخي له ټيټولو حتي الامکان ډډه کوه.

نن زمان، سجدي ته دتللو، ددي مخصوص ادب څخه لاپروايي ډيره عامه شوي ده. ډير خلک دپيل څخه سينه ومخ لوري ته ټيټه کړي اوسجدي ته لاړشي. خو صحيح طريقه هغه ده چي په ۱ او ۲ شميروکښي بيان شول. پرته له کومه عذره دا پر ښودل نه دي په کار.

۳ـ ترزنګنونو وروسته، لاسونه پرځمکه کښيږده، بيا پوزه اوبيا تندی.

****

******

په سجده کښې

۱ـ په سجده کښې سر ددواړو لاسونو تر منځ، دا ډول کښېږده چې، د دواړو بتو ګوتو سرونه دغوږونو د نرمیو مخې ته راشي.

۲ـ په سجده کښې د دواړو لاسونو ګوتې بندول په کار دي، یعنې ګوتې بالکل سره مښتې وي او ددوي تر منځ فاصله نه وي.

۳ـ دګوتو مخ دقبلې لورې ته وي.

۴ـ څنګلې دځمکې څخه پورته لرل په کار دي، څنګلې پر ځمکه تکیه کول یا لګول سم عمل نه دی.

۵ـ دواړه متې به دبغلونو څخه جلا وي، له بغلونو سره بالکل یو ځای کول یې نه دي په کار.

۶ـ څنګلې ښي او کیڼ لورې ته دومره لیرې هم غوړول نه دي ښه چې، ورڅخه نژدې لمونځ اداکوونکو ته تکلیف ورسیږي.

۷ـ ورنونه به له نس سره یو ځای شوي نه وي، نس او ورنونه سره بېل لره.

۸ـ دټولې سـجدې په دوران کښې به دې پوزه پر

ځمکه ایښي وي، دځمکي څخه به یې نه اوچتوي.

۹ـ دواړه پښې داډول ودروه چې، پندې جګې وي او ټولې ګوتې دقبلې ولور ته برابرې شي، کوم خلک چې دخپلو پښو دجوړښت له کبله، پر ټولو ګوتو د کړولو قدرت نه لري، هغه چې یې څومره کړولای شي،دومره دې دکړولو اهتمام وکړي ،پرته له کومه مجبوري ګوتې سیده پر ځمکه لګول سم کارنه دی.

۱۰- ددې خبرې خیال کوه چې دسجدې په دوران کښې پښې دځمکې څخه اوچتې نه شي،ځینې خلک دغه ډول سجده کوي چې دپښې یوه ګوته هم دیوې ګړې لپاره پر ځمکه نه تکیه کیږي.دا ډول سجده نه ادا کیږي او په نتیجه کښې لمونځ هم نه صحیح کیږي. له دې نه په اهتمام سره ډډه وکړه.

۱۱ـ دسجدې په حالت کښې اقلاً دومره ځنډ وکړه چې دري ځله "سبحان ربی الاعلی" په اطمینان سره ولوستل شي.

یوازې تندې لګول او ژر اوچتول منع دي.

****

د دواړو سجدوپه منځ کښې

۱ـ له یوې سجدې څخه چې را اوچت شي، پردواړو زنګنونو یعني دالتحیات په شان سم کښېنه .بیا بله سجده وکړه ،لږ را اوچتیدل دسیده کیدونه پرته، بله سجده کول ګناه ده. په دا ډول کولو کښې دلمانځه را ګرځول واجبیږي

۲ـ چپه پښه وغوړوه ورباندې کښېنه او راسته پښه دا ډول ودروه چې ګوتې یې کت(کږې) شي. مخ یې دقبلې ولورې ته شي. ځینې خلک دواړې پښې ودروي پر پندو کښېني. دغه طریقه صحیح نه ده.

۳ـ دناستې په مهال. به دواړه لاسونه پر ورنو ایښې وي،خوګوتې به دزنګونولورې ته کږې نه وي . بلکه دګوتو سرونه دې دزنګنونولمړنې کنارې ته ورسیږي.

۴ـ دناستې په وخت دې نظر خپل ټټر ته وي.

۵ـ دومره وخت کښېنه چې په دې کښې اقلاً یوځل "سبحان الله" ولوستل شي او که دومره وخت کښېني چې په دې کښې: "اَللّٰهُم اغفِرلِيْ وَارحَمنِي وَاستُرنِي واجبُرنِي واهدنِي وارزُقنِي."

ولوستل شي نو غوره دي.خو په فرض لمونځونو کښې ددي دلوستلو ضرورت نشته،په نفلونوکښي يې لوستل ښه دي .

دوهمه سجده او له هغې نه اوچتيدل

١_ دوهمې سجدې ته هم دغه شان لاړ شه چې مخکښې دواړه لاسونه پر ځمکه کښيږده ،بيا پوزه اوبيا تندى.

٢_ دسجدې هيئت هغسې په کار دى کوم چې په لمړي سجدي کښې بيان شوي دى.

٣_ دسجدې څخه داوچتيدلو په وخت کښې لومړي تندي دځمکې نه اوچت کړه،بيا پوزه،بيا لاسونه او بيا زنګنونه.

۴_ داوچتيدلو په وخت کښې پر ځمکه تکيه نه کول ښه دي.خو که بدن چاغ او دروند وي يا دناروغي اوسپين ږيريتوب له امله څه مشکل وي نو بيا تکيه کول هم جايز دي

۵_تراوچتيدلووروسته،په هرركعت کښې د فاتحه ترسورت وړاندي، "بسم الله الرحمن الرحيم "ولوله.

په قعده (ناسته) کښې

١ـ په قعده کښې دناستې طريقه هغه ده کومه چې دسجدې او په مينځ کښې دناستې بيان شوی دی.

٢ـ دالتحيات دلوستلو په وخت کښې، کله چې "اَشهَدُاَن لاَ" ورسيږي نو، دشهات ګوته او چته کړه او اشاره وکړه او په "اِلا اللهُ" باندي يې کښته کړه.

٣ـ داشاري طريقه داده چې دمنځ دګوتي او بټي ګوتي سره حلقه جوړه کړه، کوچني او ددي سره ملګري ګوته بنده کړه اودشهادت ګوته دا رنګه اوچته کړه چې ګوته دقبلي ولور ته مائله وي، بالکل يې سيده دآسمان لوري ته مه اوچتوه.

د "اِلااللهُ"لوستلو په وخت کښې دشهادت ګوته کښته کړه، خو دپاتو ګوتو هئيت چې داشاري په وخت يې جوړ کړي دی هغه تر پايه هغسې وساته.

****

****

دسلام ګرځولو په مهال

۱_ دواړو خواو ته دسلام ګرځولو په مهال غاړه دومره وګرځوه چي شاته ناست سړي ستا برخوګان ويني.

۲_ دسلام ګرځولو په مهال نظر دي داوږو لوري ته په كاردى.

۳_ كله چي ښــــي لوري ته غــاړه وګرځوي نو، اَلسَلَامُ عَلَيكُم وَرَحمَةُ الله ولوله. نيت وكړه چي ښي لوري ته چي كوم انسانان او ملائكي دي، هغو ته سلام كوم. كيڼ لوري ته دسلام ګرځولو په وخت كښي دكيڼ لوري موجودوانسانانواوملائكوته دسلام كولو نيت وكړه.

ددعــــا طريقه

۱_ ددعا طريقه داده چي دواړه لاسونه دومره اوچت شي چي ، سيني ته ورسيږي. د دواړو لاسونو ترمنځ لږ فاصله وي،نه خو لاسونه بالكل سره ومښلي او نه د داوړو ترمنځ ډيره فاصله وي.

۲_ ددعا كولو په وخت، دلاسونو دننه برخه دمخ خواته ولره.

دميرمنو لمونځ

مخکښې چې دلمانځه کومه طريقه بيان شوه، هغه دنارينه لپاره وه، دميرمنو لمونځ په لاندي کړوړو کښې دنارينه څخه بيل دی.

له دي امله دي ميرمني ددغو مسئلو خيال ساتي.

١ـ ښځې دي دلمانځه دپيل کيدو نه وړاندي، دا خبري عملي کړي چې، ددوي دمخ، لاسونو او پښو نه پرته، نورټول بدن په جامو باندي پټ وي. ځيني ميرمني دا ډول لمونځ کوي چې دهغوي ويښتان لوڅ وي. دځينو بيا تر څنګلو لاندي لاسونه لوڅ وي. دبعضو بيا غوږونه لوڅ وي. ځيني ميرمني دومره کوچني پړونی استعمالوي چې ترهغه دلاندي ويښتان ځليدونکي بريښي. داسي ټول کړه وړه ناجائز دي. که دلمانځه په وخت کښې مخ، لاسونه او دپښونه پرته دبدن کوم اندام هم دڅلورمي برخي برابر، دومره وخت لوڅ پاته شي چې په هغه کښې، دري ځله "سبحان ربي العظيم" ولوستل شي نو لمونځ يې نه صحيح کيږي او کـــه تر دي کم لوڅ پاته شي نو لمونځ يې صحيح کيږي، خو ګناه لري.

۲ـ دميرمنو لپاره. په خونه کښې لمونځ کول تر برنډې افضل دی او په برنډه کښې يې کول تر سراي افضل دی.

۳ـ ميرمنې دې دلمانځه دپيل کيدوپه مهال، لاسونه ترغوږونوپورې نه، بلکه تراوږو پورې اوچتوي هغه دې هم په پړونې کښې دننه اوچتوي .دپړونې څخه دباندې دې نه باسي. (بهشتي زيور)

۴ـميرمنې دې لاسونه پر سينه باندې دا ډول ونيسي چې، دښې لاس ورغوي دې دچپ لاس پر شا باندې کښيږدي ،دنارينه په شان دې تر نامه لاندې نه ږدي.

۵ـ په رکوع کښې دميرمنو لپاره دنارينه په شان ملا بلکل سيده کول ضروري نه دي .ښځو ته دنارينه په خلاف لږ تميدل په کار دي.

(طحطاوي علي المراقي ۱۴۱مخ)

۶ـ درکوع په وخت کې به نارينه ګوتې پر زنګنونو باندې خلاصې ايښې وي خو ، دميرمنو لپاره حکم دا دی چې هغوي دې ګوتې سره ومښلوي.

يعنې دګوتو ترمنځ دې فاصله نه وي. (درمختار)

۷ـ میرمنوته په رکوع کښې خپلې پښې بالکل سیده لرل نه دي په کار. بلکې ورته داسې دریدل په کار دي چې زنګنونو ته دمخې لورې ته لږ میلان ورکړي.
(درمختار)

۸ـ نارینه ته حکم دادي چې، په رکوع کښې یې بازوګان(متان) دبغلونو نه بیل او کش وي. خو دښځو لپاره دا حکم دی چې بازوګان دي دبغلونو سره مښتې وي.(درمختار)

۹ـ د ولاړې په مهال دې میرمنې دواړې پښې یو ځای کړې ولرې . په ځانګړې توګه دې بیا دواړې بجلکې(بیړی) تقریبا سره مښتې وي، دپښو تر مینځ دې فاصله نه وي. (بهشتي زیور)

۱۰ـ سجدې ته دتللو په مهال، دنارینه لپاره، دا طریقه بیان شوه چې، تر څو زنګنونه پر ځمکه نه وي تکیه شوي، تر هغه وخته دې سینه نه کښته کوي، خو دښځو لپاره دغه طریقه نه ده، هغوی به په پیل کښې سینه کښته کوي سجدې ته به ځي.

۱۱ـ میرمنو ته سجده، دا ډول په کار ده چې، د هغوی نس له ورنونو سره بالکل مښتی وي او بازوګان

له بغلونو سره یو ځاي شوي وي .دا رنګه میرمن دي پښه ددرولو پر ځاي. راسته خواته وباسي او ودي غوړوي.

۱۲_ دنارینه لپاره په سجده کښي څنګلي پر ځمکه ایښول منع دي .خو وښځو ته دغه حکم دي چي، دڅنګلو سره، سره لاسونه پر ځمکه ایښودل په کار دي.

(درمختار)

۱۳_ د دوو سجدو په منځ او دالتحیات لوستلو لپاره چي کله کښیني نو دي پر چپ کوناټي کښیني او دواړي پښي دي راسته لوري ته وباسي او پر راسته پندي دي کښیږدي (طحطاوي)

۱۴_ دنارینه لپاره حکم دادي چي، هغه دي په رکوع کښي دګوتو دخلاصو لرلو اهتمام وکړي .په سجده کښي دبندولو اړ دلمانځه په نورو اعمالو کښي دي پر خپل حال پریږدي .نه خو دي دبندولو اهتمام کوي نه دخلاصولو.خو دمیرمني لپاره ،په هر حالت کښي حکم دادي چي. هغوي دي ګوتي بندي ولري.یعني ددوي تر منځ دي فاصله نه پریږدي .په

رکوع کښي هم په سجده کښي هم .ددوو سجدو تر مینځ هم او په ناسته کښي هم:

۱۵_ دښځو جماعت کول مکروه دي .دهغوي لپاره لمونځ کول ښه دي .هو که دکور محرم کسان په کور کښي جماعت کوي نو دهغوي سره په جماعت کښي په ګډيدلو کښي کوم باک نشته .خو په داسي صورت کښي بالکل دنارینه وو شاته دريدل ضروري دي .برابر او څنګ ته دي هیڅکله نه دريږي.

دمسجد څو ضروري آداب

۱_ مسجد ته دننوتلو په مهال دغه دعا ولوله:

بسم الله والصلاة والسلام علی رسول الله صلی الله علیه وسلم، اللهم افتح لي ابواب رحمتک.

۲_ مسجد ته دننوتلو په وخت کښي دا نیت وکړه چي څومره وخت په مسجد کښي تیروم، په اعتکاف کښي یم، دا ډول ان شاءالله داعتکاف ثواب هم درکول کیږي.

۳_ مسجد ته ترننوتلو وروسته، په لومړي صـف کښي کښيناستل افـضل دي خو، که ځاي ډک شوي

وي نو چيري چي ځاي ومومي هلته کښينه . دخلکو پرغاړو ګامونه او چتول او مخي ته تلل جايز نه دي

۴_ کوم خلک چي په مسجد کښي ناست، په ذکر يا تلاوت بوخت وي، هغوي ته سلام اچول نه دي په کار، هو ! که له هغوي نه يو په خپله متوجه شي او په ذکر او نور عبادت کښي بوخت نه وي، نو هغه ته دسلام اچولو څه باک نشته.

۵- په مسجد کښي که سنت يا نفلونه کول وي نو ددې لپاره داسي ځاي انتخاب کړه، چي د وړاندي له خوا دخلکو دتيريدلو احتمال نه وي.

ځيني خلک دشا په صفونو کښي لمونځ شروع کړي، حال دا چي په مخکني صفونو کښي خالي ځاي وي. ددوي دغلطي له کبله ترليري ځاي پوري دخلکو لپاره تيريدل ستونزمن شي او دهغوي لپاره لاره اوږده وي.

داسي کول ګناه دي او که کوم سړي په داسي حالت کښي دلمونځ کوونکي له مخي نه تير شو نو ددې تيريدو ګناه هم پردي (بې ځايه) لمونځ کوونکي باندي ده.

۶_ مسجد ته دننوتلو وروسته، که لمانځه ته څه وخت وي، نو ترکښیناستلو وړاندي، دوه رکعته د **تحیة المسجد** په نیت سره ادا کړه. ددي ډیر ثواب وي. که وخت نه وي نو په سنتو کښي د **تحیة المسجد** نیت وکړه. که دسنت دکولو وخت نه وو او جماعت ولاړ وي نو په فرضو کښي دغه نیت کولای شي.

۷_ ترڅو چي په مسجد کښي ناست یي ذکر کوه. په ځانګړي توګه ددي کلمي ورد کوه:

"سُبحانَ اللهِ والحمدُلله ولا اله الاالله واللهُ اکبرُ."

۸_ په مسجد کښي دناستي په وخت کښي پرته له کوم اړتیا خبري مه کوه. مه داسي کار کوه چي دهغه نه دلمانځه کوونکو یاذکرکوونکو په عبادت کښي څه تاوان پیښ شي.

۹_ که لمونځ دریدلي وي نو مخکني صفونه مخکښي ډک کړه، که په ړومبني صفونو کښي ځاي خالي وي نو دشا په صف کښي دریدل جایز نه دي.

۱۰_ دجمعي دخطبي لپاره چي امام منبر ته راشي نو دهغه وخت څخه بیا دلمانځه تر ختمیدلو پوري څه ویل

یا لمونځ کول یا یو چاته سلام یاد سلام جواب ورکول جایز نه دي.په دغه وخت کښې کهٔ یو څوک څه خبره کوي نو هغه ته د پټه خوله کیدلو تاکید کول هم جایز نه دي.

۱۱ـ دخطبې په مهال .دا ډول کښیناستل په کار دي دي لکه څرنګه چې په التحیات کښې کښیني. ځیني خلک په لمړي خطبه کښې لاسونه ونیسي کښیني او په بله خطبه کښې لاسونه پرو ورنو باندې ایږدي.

دا طریقه بې اصله او بې دلیله ده. په دواړو خطبو کې لاسونه په ورونو ایښنودل دي.

۱۲ـ دهرداسې عمل نه ډډه کوه چې هغه په مسجد کې مردار وایسي.بدبوئې خوره شي یا یو بل چاته تکلیف ورسیږي.

۱۳ـ یو بل سړي که په غلط کار باندې ووینې. نو په ارام اونرمۍ سره یې پوه کړه. دخلکو په وړاندې دهغه د رسوا کولو، غصه او جګړې څخه بشپړ پرهیز په کار دي.

۱۴ـ دمسجد څخه دوتلو په وخت کښې چپه پښه راوباسه او دغه دعا ولوله:

بِسْمِ اللهِ وَالصَّلاةُ والسلامُ على رسُولِ اللهِ
اللّٰهُمَّ انِي اسئالک من فضلک .


شرعي
حجاب
مکتبه حکیم الامت تهانوی


الاعمال الصالحة


جزاء الاعمال


إن في ذلك لعبرة لأولي الأبصار
دعبرت واقعه
لیکنه
محمد شفیع
مفتي محمد معصوم افغاني
مکتبه حکیم الامت


بې خونده ګناهونه
مکتبه حکیم الامت تهانوی